# زریني عالي لېسه، شیخ اباد عالي لېسه، او تړیو - کپتان تاج محمد خان عالي لېسه

## د ښوونځیو د احاطوي دېوالونو

او

# شیخ اباد نجونو لومړنی ښوونځی

رغوني راپور

د زده‌کوونکیو د ژوند خوندیتوب؛ د ټولنې ګډ مسؤلیت

وردګ ډیاسپورا

سپتمبر ۲۰۲۶

بسم الله الرحمن الرحیم



وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى المائده، ۲

په نېکۍ او پرهېزګارۍ کې له یو بل سره مرسته وکړئ.

## سریزه:

یو څه باید روښانه شي. ملتونه او هېوادونه هغه وخت له بحران څخه په بریالی بڼه راووځي چې هر وګړي مسوولانه ګام پورته کړي. بل ته و نه ګوري چې پلانی صاحب، هغه اغلې صاحبه او یا هغه ځلمیان به یې وکړي. ما ته اړتیا نه شته.

په کاله کې که ځوک خپله کار نه کړي، د کور بل غړي ته یې سترګې نیولې وي، نو بیا د منګي اوبه وچېږي. په یاد مو دی:

کله چې په ۱۹۹۷ کال د اسیا مالي بحران کې سویلي کوریا د نړیوال مالي صندوق IMF د ۵۸.۴ ملیارد ډالرو پور ومانه، او دا د هغه وخت په تاریخ کې تر ټولو لوی رقم و. په ځواب کې، له ۳.۵ ملیون څخه زیاتو سویلي کوریایانو په رضاکارانه توګه بسپنه ورکړه. دوی د واده ګوتې، ګاڼې، د کورنۍ میراثي قیمتي توکي او او سره زر بسپنه کړل. په څلورو میاشتو کې په ټول هېواد کې کمپاین شاوخوا ۲۲۷ ټنه سره زر راټول کړل، چې له هېواد سره یې د بهرنیو اسعارو په راټولولو، په خپل اقتصاد باور پیاوړي کولو او د بیا رغونې ملاتړ کې مرسته وکړه.

نن موږ ګورو چې ها دی سویلي کوریا په کوم حالت کې ده؟!!! او دا درس دی چې نور هېوادونه او ملتونه څه ډول بحرانونو ته حل لارمومي او بریالي ترې وځي.

افغانستان اوس د تاریخ په نازک پړاو کې دی او له هره اړخه له معضلو او ستونزو سره مخ دی دی. په نړیوال ستېج کې حضور نه لري، د نجونو تعلیم، د ژوند لومړنی اساتتیاوې نه شته او...

په داسې حالت کې د هر افغان ته په کار دی چې بیداره شي او د وطن او رفاه او سوکالي لپاره کار وکړي. ملي تفکر او ملي مسوولیتونه ادا کړي.

دلته که موږ د خیر و برکت په کار کې په فزیکي یا معنوي بڼه برخه نه اخلي او بیا هیله لرو چې زموږ حالت دې بدل شي، رفاه او سوکالي دې وطن ته راشي، دا ممکنه نه ده.



د افغانستان بدخواهان تل په کمین کې ناست و چې څه ډول د پخوانیو ماتو غچ واخلي. هغه که د ولسونو تر منځ د نفاق او بدبیني پیدا کول دی یا بې باوري، د رفاه، پرمختګ او علم په اړه بدپوهاوی او بد فکر او یا هم ملي نښانونه او ملي شعایر بدنامول دی. د ساري په توګه، انګریزانو ولي د افغانستان له ملي بیرغ سره دښمني ازلي وګڼله.

بده به نه وي چې هغه پېښه یاد کړو چې د د انګریزانو د انتقام او غچ لړۍ تداوم یې پیاوړی کړی. په دې مانا چې تر دې مخکې هم ځینې واقعات شته.

## له تاریخه زده کړه:

کله چې په ۱۹۱۹ کال د اګست په اتمه نېټه افغان پلاوي په راولپنډۍ کې له انګریزانو سره د مجلس لپاره د جلسې تالار ته ننوتل. ګوري چې هلته د انګلستان بیرغ شته، خو د افغانستان د ږي رنګه ملي برخ نه شته. پلاوي له تالاره ووتل او اعتراض یې وکړ چې د افغانستان ملي بیرغ نه شته.

انګریزان چې وار له مخه یې ماتې غوړې وه او شرمېدلي وو، د اعتراض هم د دوی لپاره د دوی لپاره یو بل ګوزار و. د غچ او انتقام لمبو یې نور زور واخیست.

د افغانستان د پلاني مشري د کورنیو چارو وزیر سردار علي احمد خان کوله. د سوداګرۍ وزیر غلام حمد خان وردګ، د کندهار پخواني والي محمد یونس خان، په ډیلي کې د افغانستان پخواني استازی سردار محمد عزیز خان، د مالیې زارت استازی نرجن داس، ډاکتر عبدالغنی جلالپوری د دارالتالیف مشر، منشی غلام محمد خان د بهرنیو چارو وزیارت سکرتریې د پلاوي غړي وو.

مجلس وخنډې، بیا د افغانستان ملي بیرغ د مجلس په تلار کې او د ودانۍ په سر نصب شو او مجلس بېرته له سره پیل شو. دلته انګریزانو د افغانستان د ملي بیرغ د نه تدوام په اړه بېلا بېل پلانونه، او ازې او دروازې خپرې کړې چې تر ننه دوام لري. ترې پیل شوې،

ښوونځی چې د ملي شعور او ملي تفکر د بنسټونو د پیاوړتیا مرکز دی. باید ډېر خیال یې وساتل شي. دلته د تاریخ پاڼه اړول او یوه واقعه یادول بې ربطه نه برېښي.

ښوونځی د یوه ملت د راتلونکي، شخصیت، تمدن او پرمختګ بنسټ دی. هره خونه، هره ونه، هر دېوال او هره دروازه د سلګونو ماشومانو د هیلو او راتلونکو نسلونو امانت دی.

د ټولنې ابادي د ولسونو او هر انسان مسؤلیت دی چې د علم، وطن او راتلونکو نسلونو سره مینه لري. همدغه روحیه په سید اباد ولسوالۍ کې د کابل–کندهار لویې لارې پر غاړه د دریو ښوونځیو انګړونه او تدرسي خونې تخریب شوي. د ملي رفاه او سوکالي لپاره چې کله ستونزې راپیدا کېږي. د هغو د حل او اواري لپاره ولسونه راټولېږي. ملي رفاه پروژې او کارونه نه تخریبوي. موږ د غه ډول پېښې ډېرې لرو.

کله چې ولسونه د ستونزو د اواري لپاره خپله په زغم او متانت ګام پورته کړي، بیا لوی رب په هغه کې برکت اچوي او ستونزې حل کېږي. کله چې ستونزې اوارې شي، ذهني سکون رامنځته کېږي.

## ستونزې

د کابل–کندهار لویه لار د هېواد د اقتصادي او ترانسپورتي رګ حیثیت لري. د دې لارې پراختیا د ټول هېواد لپاره یوه مهمه پروژه وه.

خو د سړک د پراختیا پر مهال د لارې په اوږدو کې د د دریو ښوونځیو احاطوي دېوالونه او ځینې درسي خونې تخریب شوې.

په ظاهره دا یوازې د دېوالونو نړېدل وو، خو په حقیقت کې یې د سلګونو زده‌کوونکو ژوند له جدي خطر سره مخ کړ. په سړک د ترافیک ګڼې ګڼې، شور و زوږ درسي بهیر له خنډ و خنډ سره مخ کړ. په ښوونځیو کې یو ډول بې نظمي رامنځته شوه. دغې ستونزې خطرونه له ځانه سره لرل. موږ دا ستونزې په دوو برخو وېشو :

لومړی: د زده کوونکیو او ښوونکیو خوندیتوب:

د ښوونځي او سړک ترمنځ هېڅ خوندیتوب پاتې نه شو.

زرګونه موټر، باروړونکي ټرکونه او مسافر وړونکي وسایط د زده‌کوونکو تر څنګ تېرېدل.

د تفریح پر مهال ماشومان مستقیم د لویې لارې له خطر سره مخ وو. د ښوونکو او زده‌کوونکو ژوند هره ورځ له احتمالي پېښو سره مخامخ و. د ماشومانو د ژوند او خوندیتوب مسئله وه.

دویم: تدریس ګډوډېدلو ستونزه:

د دېوالونو د نشتوالي بل مهم زیان د سړک دوامداره شور، زږو او بېروبار و.

د کابل–کندهار لویه لار شپه او ورځ فعاله ده.

درنې لارې، مسافر وړونکي بسونه او موټر، ماشینونه دا ټول په دوامداره ډول ټګ راټګ کوي. د دې ټولو غږونه مستقیم ټولګیو ته رسېدل. د دېوال د نشتوالي له امله د غږ مخنیوی موجود نه و، چاپېریال خوندی نه و. او د ښوونکي غږ د موټرو تر غږ لاندې ورکېده او زده کوونکیو سم تمرکز او اخځ نه شوای کولی. له امله یې په ازموینو، درسونو او ورځنیو فعالیتونو یې منفي اغېز پرېوت.

> کله چې یو ملت د خپلو ملي نښانونو او شعایرو په اړه بدګومان شي، په نړیوال ډګر کې یې هویت او اعتبار کمزوری کېږي. ځکه نو نیواکګر تل هڅه کوي چې د ملتونو ملي شعایر، تاریخي ارزښتونه او ګډ هویت تر پوښتنې لاندې راولي او سپک یې وښيي.

هغه چاپېریال چې باید د علم، سکون او تمرکز ځای وای، ورو ورو د شور، دوړو او اندېښنو چاپېریال ګرځېدلی و.

## د ستونزو او اری او بیداري:

د ټولنې پرمختګ یوازې په بیدار فکر، ګډ کار، باور او اخلاص رامنځته کېږي، دلته یوازې پیسې مطرح نه دي، بلکې ارزښتونه د اهمیت وړ دی. دلته دوستانو له خپلو ورځنیو اړتیاوو او خوراک څښاک څخه سپما وکړه او مالي مرسته یې وکړه؛ بل اړخ ته په کار دی چې دوستان او ولسونه په اشر کې کارونو ته اوږه ورکړي، فزیکي کار وکړي؛ او ځینو خپل قیمتي وخت، تجربه او فکر د چارو د همغږۍ، تنظیم او پرمختګ لپاره وقف کړي. دا ټولې مرستې، که مالي دي، که فزیکي او که فکري، د یوه ستر هدف لپاره سره یو ځای شوې بیا موږ د رفاه منزل ته رسېږو او دا به د ټولنې د سجیه اخلاقو د بنسټ د پیاوړېدا لامل شي.

ولس بسپنه ورکړه او د ستونزو د اوارې لپاره سره جرګه شول. اشریې وکړ او لاس په کار شول، چې دژوند وژغوري او درسي بهیر له اخلال وساتل شي.

کله چې په یوه ټولنه کې د ګډ کار، متقابل باور او اعتماد فضا رامنځته شي، نو د رفاه، سوکالۍ او پرمختګ پر لور مزل هم اسانه، ډاډمن او دوامدار کېږي. په داسې چاپېریال کې هره پرېکړه د سلا، تدبیر او اړتیا له مخې کېږي؛ لګښتونه په دقت او امانتدارۍ ترسره کېږي، له بې ځایه اسراف او غیرضروري مصارفو څخه ډډه کېږي، او لومړیتوب هغو بنسټیزو کارونو ته ورکول کېږي چې د علم، تعلیم او ټولنې د اوږدمهاله پرمختګ سبب ګرځي.

د علم کورونه د یوه ملت د راتلونکي بنسټونه دي. د ښوونځیو، کتابتونونو او عامه شتمنیو ساتنه د هر وګړي ملي، اسلامي او وجداني مسؤلیت دی. هره خښته چې د ښوونځي لپاره اېښوول کېږي، هره ونه چې کرل کېږي، هره لاره چې جوړېږي او هره مرسته چې ورکول کېږي، د راتلونکو نسلونو لپاره د امید، پوهې او پرمختګ بنسټ جوړوي.

راځئ چې د همدې بیدارۍ او ګډ احساس په رڼا کې خپل علمي مرکزونه خوندي وساتو، عامه شتمني د خپل کور امانت وبولو، او خپلو اولادونو ته داسې افغانستان پرېږدو چې د علم، امنیت، متقابل درناوي، شفقت، یووالي او سوکالۍ پر بنسټ ولاړ وي. همدا هغه میراث دی چې راتلونکي نسلونه به پرې ویاړي او زموږ نیک نوم به ژوندی وساتي.

دوستانو د زړه له تله د معارف په دې خیریه او عام المنفعه پروژه کې ونډه واخېسته. ولس اشر وکړ، ښاغلي ملک صاحب عبدالقدوس خان د همغږۍ چارو ته اوږه ورکړه. هیله ده په راتلونکې د خیر و برکت په داسې کارونو کې نور دوستان هم برخه واخلي.

**لګښتونه:**

د متراج پر بنسټ لګښتونه په لاندې ډول دي.

## الف: دزرني ليسه:

اوږدوالي – ۱۵۰ متر

لوړوالي – متغير

متر مربع لګښت – ۳۳۰ افغانۍ

لګښت – د محلی شوراً او ښاغلي ملک صاحب عبدالقدوس د اټکل له مخې ۱۱۵۰۰۰ – افغانۍ.

پرچال – ۵۰۰ تختې يوه تخته ۳۰ افغانۍ = ۱۵۰۰۰ افغانۍ.

ټولټال لګښت – يولک او ديرش زره

۱۳۰۰۰۰ افغانۍ.

د ولس ونډه – ديرش زره افغانۍ

بهر ميشته وردګ – يولک ۱۰۰۰۰۰ افغانۍ.

## ب: د کپتان تاج محمد خان ليسه – اوتړی:

اوږدوالي – ۷۵ متره د احاطه ديوال + ۱۶ متره د – اداری ديوال –

لوړوالي – ۲ متر

ټولټال – ۹۱ متر ۲ × متر = ۱۸۲ متر مربع

د پرچال تبی – ۳۱۰ دانی فی دانه ۳۰ افغانۍ

لګښت – ۱۸۲ متر ۳۳۰ × يو متر مربع شپيته زره او شپيته ۶۰۰۶۰ افغانۍ + لس زره د پرچال تبی = اويا زره او شپيته ۷۰۰۶۰ افغانۍ

ټولتال – ۲۶۵۰ ډالره د دواړو ليسو د ديوال لګښت

۷۵۰ ډالره له ښاغلي عبدالرحمن مايار سره امانت پاتی وي ، چی د بيا رغونی د کميټې د وړانديز له مخې ۳۵۰ ډالر د زرنی ليسې ځينی کارونه نيمګړی پاتې وو ، هغو ته ورکړل شوي او ۴۰۰ ډالر د شيخ اباد د نجونو ښوونځی ته ورکړل شوي.

**د: شيخ اباد د عالي ليسه**: د دې ليسې احاطې ټول مسوُليت او لګښتونه د ښاغلي داکتر صاحب عبدالولی په غاړه اخيستی و ، چې په ښه بڼه يې چارې ترسره شوې دي.

## ه: شيخ اباد نجونو لومړ نی ښوونځی:

د پورته يادو دريو ښوونځيو د کار په بهير کې ځلورم ښوونځی د شيخ اباد د نجونو ښوونځی هم زيات شوي، چې د همغړی چارې يې ښاغلي انجنير محمد ناصر تائب صاحب پر مخ وړلې.

## بسپنه:

**يو: شيخ اباد نجونو لومړني ښوونځی سره د دوستانو د مرستی نوملړ :**

- اغلی ډاکتر روشنک وردګ، شيخ اباد نجونو لومړني ښوونځي د دروازو ، کړکيو د جوړولو ټولی چاری ۱۰۵۵۰۰ افغانۍ.

- ښاغلی .... او اغلی خورکۍ له جرمنی څخه ۶۰۰ يورو .

- وردګ ډياسپورا امريکا ۴۰۰ ډالر.

- ښاغلی جاويد نوريوال تکساس ۲۰۰ ډالر.

- ښاغلی ناصر تائب واشنګټن ډی سی ۲۰۰ ډالر.

- ښاغلی عبدالرحمن مايار کليفورنيا ۲۰۰ ډالر.

- ښاغلی حفيظ الله غښتلې واشنګټن ډی سی ۵۰ ډالر.

- ښاغلی نجيب رحماني واشنګټن ډی سی ۵۰ ډالر.

- ښاغلی روح الله ساحل واشنګټن ډی سی ۵۰ ډالر .

- ښاغلی امین انصاری واشنګټن ډی سی ۵۰ ډالر .

- وحید الله صابری واشنګټن ډی سی ۳۰ ډالر .

د دی ښوونځی ټولی چاری د اغلی داکتر روشنک وردګ او محلی شوراګ تر څارنی لاندی ترسره کیږی .

**دوه: د هغو درنو دوستانو نوملړ چی د دی خیرئیه پروژه ملاتړ یی کړی .**

ښاغلی داکتر عبد الولی وردګ لندن ، لویه برخه ....... ډالر، د شیخ اباد د خوندیتوب دپوال لګښت .

ښاغلی جاوید نوریوال تکساس ۵۰۰ ډالر

ښاغلی عبد الرحمن مایار کلیفورنیا ۳۰۰ ډالر

ښاغلی حاجی روح الله شیرزوی وردګ کلیفورنیا ۲۵۰ ډالر

ښاغلی احمد فرید مایار کلیفورنیا ۲۵۰ ډالر

ښاغلی په نیویارک که مشر ۲۰۰ ډالر

ښاغلی احسان الله نوری نیویارک ۲۰۰ ډالر

ښاغلی فضل الرحمن وردګ واشنګټن ډی سی ۲۰۰ ډالر

ښاغلی سعید وردګ کلیفورنیا ۱۰۰ ډالر

ښاغلی مجتبٰی وردګ واشنګټن ډی سی ۱۰۰ ډالر

ښاغلی فرید نیوجرسی ۱۰۰ ډالر

ښاغلی خلیل الرحمن رحمانیار کلیفورنیا ۱۰۰ ډالر

ښاغلی شاه محمود سلار کلیفورنیا ۱۰۰ ډالر

ښاغلی احسان الله بومبیوال کلیفورنیا ۵۰ ډالر

ښاغلی محمد قاسم همت کلیفورنیا ۱۰۰ ډالر

ښاغلی خلیل جاهد واشنګټن ډی سی ۱۰۰ ډالر

ښاغلی معصوم رمزی کلیفورنیا ۵۰ ډالر

ښاغلی محمود احمدی کلیفورنیا ۱۰۰ ډالر

ښاغلی حفیظ الله غښتلی واشنګټن ډی سی ۱۰۰ ډالر

ښاغلی فضل الله نوری نیوجرسی ۱۰۰
ډالر

ښاغلی غلام مسعود وردګ نیویارک ۱۰۰ ډالر

د پینځم صنف زدکونکی ، متعلمه زحل مایار کلیفورنیا ۳۰ ډالر

ښاغلی هدایت الله زاهد

کلیفورنیا ، ۲۰ ډالر

ښاغلی ګل جان صابر ۱۰۰ ډالر

ښاغلی .... له جرمنی څخه یو ځوان ۱۰ پایه کمپیوټر د شیخ اباد لیسې ته ډالې کړل .

چو ایستاده ی

دست افتاده ګیر

(اصف مائل)